# د حمید بابا په کلام کښې انځورګري

## Scenography in the poetry of Hameed Baba

Dr Gul Munir Adenzai★

**ABSTRCT**

Hameed Baba is the third great name of Classical age of Pashto literature, after Khushal Khan Khatak and Rahman Baba. He not only introduced the “Hindi Sabk” in Pashto language in accordance with the Pashto norms and conventions, with other ornate devices of the language he has introduced such a scenography in his poetry that the readers are bewitched and awestricken with his use of imagery.

A great part of his poetry is embedded with his amazing scenography. In this Abstract the scenography in the Poetry of Hameed Baba is fully proved through critical and investigative principles.

**Key Words:** Pashto literature, Hindi Sabk, Pashto norms, scenography

انتظار ئې د نرګس ګونه کړه زېړه
سروې سر پسې له باغه بېرون وکېښ[۱]

د محبوب او معشوق په انتظار به ډېرو شاعرانو شعرونه وئیلې وي او د شعر پېرایه به ئې هم ښۀ د اعلی درجې او د درد کېفیت به په کښې ددې شعر نه هم زیات دردناک او د کرب نه ډک وي، خو ولې کومه منظر کشي چې په دې شعر کښې شوې، شاید چې ډېر کم به وي چې ددې شعر سره د تصویر کشۍ په مد کښې مقابله وکړي.

دا هغه اثرناک او زړۀ راښکونکے شعر وو چې زه یې د حمید بابا په دې اړخ څه لیکلو ته مجبور کړم. او دومره غرق اثر یې راباندې کړے دے چې دغه هر څه د یو کېفیت نوم دے او د کېفیاتو زیاته برخه د حال سره وي په قال کښې نۀ بیانېږي.

د یو څیز یا منظر عکس، تصویر یا انځور په کېمره کښې کېمره مېن او په کاغذ یا کانې، تخته یا کمپیوټر باندې مصور یا انځور ګر جوړوي. د هغې خپل اهمیت مسلم دے، چې خاص کر مصور یا انځور ګر چې کوم زیار کاږي دغه د فنون لطیفه په زمره کښې راځي[۲]. د نړۍ په

---

★ Lecturer GDC Thana Malakand

تهذيب يافته قامونو کښې ورته ډېره په درنه سترګه کتلې کېږي. خو ولې اديب چې کله دغه څيز يا منظر له د لفظونو جامه ور واغوندي، نو د هغې خوند او اهميت زما په خيال ابدي او نۀ ختمېدونکے شي. هسې خو ادب ته په مجموعي لحاظ د ژوند عکس او هينداره وئيلے شي[۳]. غرض دا چې په ادب کښې که د يوې واقعې منظر، څيز، پېښې، ماحول او ژوند په کشالو بحث تر سره کېږي نو دغه په مجموعي لحاظ د ژوند ترجماني ده.

وروستو ورو ورو د موضوع او هيئت په لحاظ د ژوند په دې ارتقائي سفر کښې ادب کښې ډېره پراختيا راغله او په هر اړخ ادب کښې نۀ يواځې ډېر ژانرونه رامينځ ته شو بلکې د هيئت او ماهيت تر څنګ د سبک ځانګړيو تجربو د ادب لمن په هر اړخ پراخه او دلپزيره کړه. د نثر سره سره په کښې د شعري ادب په ضمن کښې هم دغه تجربې روانې وې چې په شعر کښې د منظر کشۍ، انځور ګرۍ يا محاکات نګارۍ کامیابه د قدر وړ خصوصيات او د کمال درجې تجربې وشوې. انځور ګري[۴] چې په اردو کښې ورته د منظر کشۍ يا منظر نګارۍ[۵] سره سره محاکات نګاري[۶] هم وئيلے شي چې په خپلو کښې ډېر څه قدر مشترک خصوصيات لري.

د حميد بابا په کلام کښې د منظر کشۍ دپاره کله د تشبيهٔ او کله د استعارې لاره خپله وي خو دا هم دومره په هنر سره کوي چې هم منظر بيان شي او هم د ايجاز نه کار واخستے شي. حميد بابا چې په يو شعر کښې کوم منظر بيانوي، مونږ هغه په يو نظم يا پيراګراف کښې نۀ شو بيانولے. لکه د محبوب مسکا به ډېرو شاعرانو ستائيلې وي خو چې حميد بابا د تشبيهٔ په ضمن کښې د ګلونو د غنچې سپړدلو کومه لطيفه منظر کشي کوي نو د لوستلو سره تعلق لري.

سرې شونډې ئې زېب هسې پېدا په تبسم کا
عين لکه غنچه چې پانې اوسپړي د ګل[۷]

په دې شعر کښې د منظر حرکت هم بيان شوے او بيا د محبوب د خط او زنې منظر د مچو د ګبين سره بيانول هم داسې خوند کوي.

تر تور خط لاندې يې زنه هسې زېب کا
لکه ټولې شي مچۍ په انګبين[۸]

او بيا په مېخانه کښې د ملنګ کښېناستو منظر د محبوب د خال او سرو شونډو سره داسې يادوي.

مشکین خال یې په سرو لبو هسې زېب کا
لکه مست په مېخانه کښې ملنګ کښېني[۹]

او بیا د ډیوې د لوګي منظر د یار خط په نسبت داسې انځوروي.

دا یې خط نشونما کاندي له مخه
یا نرے نرے لوګے ځي له چراغ[۱۰]

او بیا د خپل محبوب د ګلشن په طرف تللو پر محال د ګلونو ښاخ راښکته کېدلو منظر کوم انداز د ے.

پرېکوؤ ته یې سر ټیټ د ګلو ښاخ کا
چې د باغ په کناره شي دلربا ګډ[۱۱]

ما چې هر کله د حمید بابا د کلام په دې ضمن کښې مطالعه شروع کړه نو د هغه په کلام کښې په دې حقله بلها نمونې پریوانه پرتې دي. بلکې که زۀ دا ووایم چې هر دریم او څلورم شعر د منظر کشۍ په زمره کښې راځي نو مبالغه به نۀ وي[۱۲]. خو ولې تر دې دمه د حمید بابا په دې اړخ چا ځانګړے تحریر نۀ د ے تر سره کړے. حالانکې د حمید بابا دا اړخ د پشپړ کتاب نا د کتابونو د تحقیق محتاجه د ے. ځکه چې زه خو دلته د هغه د کلام صرف د منظر کشۍ په حقله سر سري تر ممکنه حده ایجازي څېړنه کووم. حالانکې د هغه په کلام کښې واقعه نګارۍ او محاکات نګارۍ سره سره د تجریدیت تر حده تصویرنو ته د لفظونو جامه ورکولو سر بېره لکه چې د شعرونو نه څرګنده ده د ژبې ورکولو تر څنګ حرکت هم په نظر راځي. چې د مختلفو زاویو نه د څېړنې محتاجه ده. په بنیادي توګه حمید بابا په پښتو کښې د هندي سبک باني د ے[۱۳]. ددې نه وړاندې پښتو شعري ادب کښې خوشحال بابا د ځانګړې سبک سره سره یو ادبي مکتب بنیاد ایښے وو چې د خټک نامې عموماً شاعران او نور اکثریتي ، ددغه سبک او مکتب پېروي کړې ده[۱۴]. او که بیا کوم شاعر ددغې اثر نه ځان بچ ساتلے نو په بل اړخ د رحمان بابا اخلاقي او تصوفي یا د شاعر انسانیت د ادبي مکتب په اثر کښې راګېر شوے د ے[۱۵].

ددې د واړو مکتوبونو په شتون کښې حمید بابا هغه د تېز فکر او بلند او انفرادي تخیل خاوند شاعر د ے چې د خپل علمیت او بصیرت په بنیاد پښتو شعري ادب کښې په اول ځل د هندي سبک بنیاد ږدي. نۀ یوائې دا چې د هندي سبک سرخېل د ے بلکې ددغه سبک ابیاري ئې په خپل نازکخیاله تخیل داسې کړې چې دغه سبک ئې په پښتو کښې د عروج بام ته هم

رسولے دے۔ نو ځکه خو ورته موشګاف وئیلے شي[۱۶]۔ ددهٔ پېرو شاعرانو لکه کاظم خان شېدا، کامګار خټک، علي خان او حنان بارکزي د هندي سبک سر څنه کښې خپل کردار لوبولے، خو ولې کوم د عروج بام ته چې حمید بابا رسولے، د هغې نه ئې دومره وړاندې نهٔ دے بوتلے[۱۷].

ددې څو خبرو نه زما اصلي هدف دا وو چې حمید بابا په بنیادي توګه باندې د هندي سبک سرخېل وو او هندي سبک د فارسي شاعرانو هغې ډلې شروع کړے وو چا چې د هند د زمکې نه خپل تخیل له استعارات ، کنایات او تشبیهات اخستي وو[۱۸]. غرض دا چې حمید بابا د عربي سره سره د فارسي ادب نه هم ښه په پوره طور واقف وو او دغه ټول شاعران به ئې لوستي وو ۔ ځکه خو د هغه په شعر کښې د دومره خوند سره سره د کمال درجې منظر کشي خبرې او نخا کوي۔ زمادې خبرې پخلے به د ښاغلي خواجه محمد سائل ددې پېراګراف نه په ښه توګه وشي۔

"حمید بابا د پښتو ادب د غزل پلار، د منظر کشۍ استاد او د نازکخیالۍ بابا ادم دے۔حمید بابا فنکار دے، مصور دے۔یو داسې مصور چې څنګه یو څیز ووینې نو مخې سره هو به هو هم هغسې نقشه راکاږي۔[۱۹]"

د نوموړي څېړنکار خبره سل په سل صحیح ده۔ مونږ وړاندې هم د حمید بابا څنې شعرونه وړاندې کړي دي خو دلته به د مثال په توګه نور مثالونه هم وړاندې کړو چې لوستونکو او څېړنکیو ته خبره نوره هم څرګنده شي۔ د سیند اوبهٔ خو به هر چا لیدلې وي خو ولې د اوبو ډب کېدل به خاصو خلکو لیدلي وي۔ ولې د حمید بابا غوندې د تېزې مشاهدې، زیرک او انځور ګر نظر خاوند نه دغه شان وړې وړې نظارې چرته پټېدے شي۔ دلته دا خبره هم د ذکر وړ ده چې د ځانګړې حېثیت لرونکي شاعر دا هم یوه په زړهٔ پورې خاصه وي چې هغه په وړو وړو زړو او په جزیاتو کښې د افاقیت او حسن جمال او د عبرت نه ډک داستانونه لټوي بلکې دغه داستانونو له د ښکلا جامه ورکوي۔ خو حمید بابا د ښکلا سره سره د منظر کشۍ په رنګ کښې دغه ډب اوبهٔ د خپل محبوب حسن ته داسې په تماشه ستنې کوي۔

تللې اوبهٔ ډب په ببرته وخوري ستا له شوقه
چرې چې واقع شي شست وشوئ په جوئ ستا[۲۰]

او بیا د خپل محبوب د قبلې له اړخه واپس راتلو منظر د نمر پریواتهٔ له لوري د نمر د راختو سره تصویروي۔

د مغرب له لوري نمر وخوت قيامت شو
که راځي په کبر و ناز دلبر دپاسه[۲۱]

د حميد بابا يو کلام کښې په دې حواله دومره لويه زخيره پرته ده چې سړے حېران شي کوم کوم شعرونه راوړاندې کړم. ځکه چې زياتره شعرونه ئې د انځور ګرۍ دومره په زړۀ پورې نمونې دي چې لکه وړاندې ما ذکر وکړو چې د حميد بابا په دې اړخ ډېرې زياتې څېړنې کېدلے شي. خو تر اوسه چې د حميد بابا په دې ډګر کښې کوم حق کېدو په هغې کښې لا په سېر کښې پونې هم نۀ ده رېشلے شوې. د يو پيراګراف يا اشارې تر حده ورته پام ګرځېدلے خو ولې بشپړ کار پرې نه دے شوے. په سطحي توګه ورته نوموړي څېړنکار ډاکټر اقبال نسيم خټک هم دومره ستائيلے چې ځومره د هغه د څېړنې سينه وه. :"د حميد بابا د کلام يوه بله خوبي مصوري، محاکات نګاري او منظر کشي ده،هغه د تېزې مشاهدې خاوند وو. هغه چې د ښکلا کوم يو اړخ ليدلے دے هم هغه شان ئې د الفاظو جامه وراغوستې ده .هغه د محاکات نګارۍ په فن کښې هم يو ماهر استاد ښکاري. [۲۲]"

د ډاکټر صېب خبره په مثال "که روپۍ وړه خو په تول پوره" په مصداق د کاڼي د کرښې حېثيت لري. ځکه چې په دې حقله ډاکټر صېب وړاندې د يو څو شعرونو نمونې هم ورکړې چې زۀ ترې يوه نمونه دلته رانقلوم.

په راتلۀ د يار د خط ياران په دوک شي
باغ چې وتوکېږي لا باغوان په دوک شي[۲۳]

حميد بابا د شېرينې او خوږې پستې ژبې نه پرته په ذهن کښې يو د محبت رنګين کائنات لري او د شعر په ژبه ترې په مزه مزه او ډېر په خوند خوند ټکرې راوړاندې کوي چې يو طرفته سحر انګيز کېفيت لري نو بل طرفته زړۀ راښکونکي د جنت په شان ښائسته په ناز ګډېدونکې او سخنداني منظرې لري. که يو طرفته ئې سړے په لوستو نه مړېږي نو بل طرفته ئې په ليدو سترګې نه مړېږي. او د انسان زړۀ او سترګې بيا بيا دغه کېفيت او منظرونه محفوظ کېدل غواړي. چې يو وارې په دې خوند او سرمديت اخته شي نو د ټول عمر شېدائي ئې کړي. ددې شېدائي کېدو دپاره به صرف دومره پکار وي چې سړے يو وارې د حميد بابا دُر مرجان ملغلرې ولولي. او په تېره تېره که دا لاندنے غزل ئې يو وار تر نظره شو نو زما خيال دے چې د منظر کشۍ دغه ژوندي عکسونه به ئې تل تر تله په زړۀ او ذهن نقش وي.

خط په مخ د صنم راغے که سپوږمۍ شوه په هاله کښې
دا ئې غاښ په خولۀ کښې زيب کا که ژاله شوه په لاله کښې
په جوار د سپينو نۀ وي هيڅ ارام په غزاله کښې
سر تر پايه غم و هجر لکه نے سورے سورے کړم
ځکه يم مدام دا هسې په پرياد و په ناله کښې
که يار غواړے هومره ژاړه څو درځي عبدالحميده
دا په دا چې دُر منده شي په درياب نۀ په ناله کښې[۲۴]

د محبوب په مخ د خط راتلو نظاره د څوارلسمې سپوږمۍ په شپول کښې د راګېرېدلو سره او په خوله کښې ئې د غاښونو منظر د ګل لاله د ګل په مينځ کښې د ږلۍ ښکارېدلو منظر کشي په ورمبني شعر کښې، نو په دويم کښې د واقعه نګارۍ په رنګ کښې د محبوب د شهلا سترګو د جادو ثاني نۀ په هند او نۀ بنګال کښې ويني او وړاندې د معشوقې د زلفو د ښکلا په دام کښې راګېرېدل، د مرغۍ په سوونو دامونو کښې د نښتو منظر او په تېره تېره د محبوب په عشق کښې له ډېره غمه د شين زړۀ کښې د يار د شونډو خيال تشبهٔ په پياله کښې د پرتو شرابو سره زما په خيال دا رنګه لطيف خيال په منظر کښې په اول ځل حميد بابا راوړے. په بل شعر کښې بلکل د مخامخ منظر عکس د غونچې په لمن کښې نغښتے ګل يو منظر او په شنه دوشاله کښې پروت محبوب بل منظر او بيا وړاندې د بل شعر په اوله مصرعه کښې د خوبرويو په ګلګون مخونو کښې د خال او خط عکس نو په بله مصرعه کښې ئې تشبيه په دوشاله کښې ښکلې خرقه اغوستې د غزېدلې پروت محبوب منظر، منظر پسې منظر، د کمال منظر کشي، دلته هم د حميد بابا سره د منظرونو لفظونه شومتيا نۀ کوي لکه د حاتم طائي په دې حقله سخي حميد بابا ورپسې شعر کښې د رقيبانو په خوا کښې د خپل محبوب منظر داسې بيانوي لکه ځنګه چې د سپو په خوا کښې هوسۍ ناقراره منظر وي. بيا بل منظر چې د يار غم په زړۀ داسې سورے سورے کړے لکه په شپېلۍ کښې چې د درد نغمې غږوي. خبره دلته هم نۀ ودرېږي او په محبوب پسې د مسلسل ژړا نه چې کومې اوښکې بهېږي ددغې منظر په بنياد دا دليل راوړي چې زۀ د اوښکو سېلاب ځکه بهيومه چې قيمتي کاڼي هم ددې سېلاب په بېخ کښې وي.

دا ټول غزل ئې د منظر کشۍ دومره پراخه سېنما ده چې په يوه پرده ډېر په زړۀ پورې طريقه پوره دنيا راجمع کړې او دا توقع هم صرف د حميد بابا غوندې د انځور ګر ذهن خاوند نه کېدے شي. چې مونږ ته ئې د شعر په ژبه کښې راوړاندې کړل.

د پورته ذکر شوي غزل په هر منظر په خصوصياتو او مندرجاتو په مودو مودو بحثونه کېدلے هم شي او د هرې زاوئې نه د راسپړدلو متقاضي هم دي. خو ولې که مونږ دلته په دې کښې ورپرېوځو نو د ځان راوېستلو لارې پېدا کول به راته ګرانه شي. دا به د ذوق خاوندانو ته پرېږدو او مونږ به د حميد بابا د کلام نه يو څو نمونې نورې د تجزيه کولو هڅه وکړو.

په دا رنګه د يو بل غزل په وړومبي شعر کښې خپل ځان د دوؤ منظرونو په دائره کښې داسې ښکاره کوي.

د نوخطو په صفت مې زبان نښلي
چې تر دام لاندې دانه خوري مارغان نښلي[25]

او بيا د محبوب په شېرين مخ د خط تشبيه په شکرو د مچانو د خوځېدو د منظر سره داسې انځوروي.

دا ئې خط په کناره د مخ جنبش کا
که په خوان د شېرينۍ مچان نښلي[26]

د ښکلو په ناز او د خياله له کبله تتې خبرې باعث د هغوي په خوله کښې د لاړو خوړوالې ثابتولو سره داسې منظر بياني کوي.

دا له نازه کړې خوبان خبرې تتې
که د لاړو په خوږو ئې زبان نښلي[27]

د حميد بابا په کلام کښې چې څنګه ذکر وشو د منظر کشۍ بلها نمونې دي او د کلام زياتره حصه ئې د منظر کشۍ په نور معموره ده. خو ولې بيا هم د هغه بعضې شعرونه که په دې مد کښې رانۀ وړو نو د حميد بابا روح به شايد راته ګيله مند شي. د حميد بابا د روح نه په بخښنې سره صرف د يو بل غزل دوه شعرونه په وړمبي شعر کښې د يار په مخ د زلفو منظر په منظر کښې او په بل شعر کښې د محبوب د ونې سيورې ته په خوب وېده د راوېښولو د پاره د ونې ښاخونو ته د خوځولو خواست کوي چې د هغې د سيورې خوزېدو سره به محبوب وېښېږي عجيبه منظر دے، چې په ژوندي شکل کښې زمونږ د سترګو وړاندې معلومېږي.

دا ئې زلفې دي په مخ باندې تاوېږي
که ماران دي په چندنو باندې خېژي[۲۸]

له مستیه ښاخ ښوره د سحر باده
چې سایه ئې په زلفانو وخورېږي[۲۹]

په یو بل شعر کښې د خپل ځان د محبوب او دنیا په وړاندې د بې وسۍ او د مجبورۍ له کبله خپله بده ورځ داسې تصویروي۔ چې که ډېر سنګدله انسان ولې نهٔ وي خو زړهٔ به ئې پرې خوامخوا نرمېږي۔

لکه سر د پسه په اور غابښونه سپین کا
هسې ما لره له غمه خندا راغله[۳۰]

په شعر کښې د یو څیز یا منظر تصویر په لفظونو کښې راکښل، هر هغه شاعر کولے شي، چې د لفظونو، محاورو، متلونو، تشبیهاتو او نادرو استعاراتو یوه لویه پراخه خزانه ورسره وي۔ او د هغې په وخت برمحل او صحیح کارولو په چل هم پوهه وي۔ ځکه چې شعر یو فطري عمل سره خداداد صلاحیت دے چې قدرت ئې چاله ورکړي هم هغه ئې کولے شي۔ خو ولې دغه فن یا هنر د زده کړې او تېزې مشاهدې سره نور ښایسته کېږي۔ او شاعر د خپل چاپېرچل نه د عالمګیریت او افاقیت درجې ته رسوي۔ دغه رنګه منظر کشي هم د هر چا د وس خبره نهٔ ده بلکې دغه برني خصوصیاتو سره په ژبه د قدرت حاصلولو په شعر کښې ښکلې انفرادي پېرایه پکارولو، د خپلو تهذیبي اقدارو سره سره نړیوالو تهذیبونو د ادب نه د باخبره اوسېدلو په رڼا کښې په ډېره ښه طریقه کېدلے شي۔ او زما په خیال که حمید بابا د ټولې نړۍ د ادب نه خبر نهٔ ؤ، خو کم از کم د عربۍ او فارسۍ نه علاوه څه نا څه هنري ادب نه هم خبر ؤ۔ ځکه چې د دغې مطالعې او مشاهدې په رڼا کښې د حمید بابا غوندې ادب تخلیق کول هم صرف د ده کمال دے او په خاصه توګه د شعري انځورګرۍ په مد کښې د حمید بابا کمال دا دے چې په پښتو ادب کښې د وړاندې نه په شعر کښې د انځور ګرۍ څه داسې خاص روایت هم په نظر نهٔ راځي۔ که زهٔ دلته دا دعویٰ وکړم چې په باقاعده توګه په پښتو شعر کښې د منظر کشۍ بنیاد هم حمید بابا ایښے دے نو بده به نهٔ وي۔ اګر چې د خوشحال بابا په کلام کښې دغه اړخ څه نا څه برېښې خو د هغه

نه پس لکه څنګه چې اووئيلے شول په باقاعده توګه دا اعزاز مونږ د حميد بابا ته په سر کولے شو.

## حوالې


۱. عبدالحميد مومند، درمرجان، مرتب کونکے، سيد انوار الحق، يونيورستي بک ايجنسي، ۱۹۷۸ء، مخ ۹۷
۲. ميا سيد رسول رسا، ادبي تنقيد، يونيورستي بک ايجنسي، س ن، مخ ۲
۳. سحر يوسفزے، ادب څه دے، الکتاب پرنيټرز پېښور، دويم چاپ، ۱۹۹۹ء، مخ ۳۹
۴. قلندر مومند، درياب، اين ډبليو ايف پي، ټيکس بک بورډ، پېښور، ۱۹۹۴ء، مخ ۶۸
۵. فضل مير خټک، فضليات (د پښتو ادبي اصطلاحات)، حيا بک ډپو کرک، ۱۹۹۹ء،
۶. هم دغه، مخونه، ۳۷۱، ۳۷۲
۷. عبدالحميد مومند، د عبدالحميد مومند کليات (دويم چاپ)، مرتب کونکے، محمد اصف صميم، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۷ء، مخ ۱۱۳
۸. هم دغه، مخ ۱۳۹
۹. هم دغه، مخ ۲۵۳
۱۰. هم دغه، مخ ۹۷
۱۱. هم دغه، مخ ۵۸
۱۲. وګورئ د حميد بابا کليات
۱۳. همېش خليل، د پښتو شعري ادب، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، دسمبر ۲۰۰۸ء، مخ ۲۸۸
۱۴. لکه اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، کاظم خان شېدا، سکندر خان خټک، کامګار خان خټک، صدر خان خټک، ګوهر خان خټک او داسې نور ډېر شاعران د مثال په توګه يادولے شو.
۱۵. په دغه اثر کښې تر دې دمه هم شاعران شته مثلاً معزالله مهمند، محمدي صاحبزاده، ميا عمر، يونس خېبرے، مصري خان ګګيانړے، حافظ الپورى، عبدالعظيم رانيزے، د بده بېرے قلندر وغېره.
۱۶. همېش خليل، پښتو شعري ادب، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، دسمبر ۲۰۰۸ء، مخ ۲۸۶

۱۷. خواجه محمد سائل، عبدالحمید بابا، عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور، ۱۹۷۵ء، مخ ۱۰۴
۱۸. هم دغه، مخ ۱۰۵
۱۹. هم دغه، مخ ۱۰۶
۲۰. عبدالحمید مومند، د عبدالحمید مومند کلیات، مخ ۱۴
۲۱. هم دغه، مخ ۱۸۴
۲۲. پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک، د رنګ او بو قافله، میټرو پرنټرز لاهور، جولائي ۱۹۹۱ء، مخونه، ۷۴، ۷۵
۲۳. هم دغه، مخ ۷۶
۲۴. عبدالحمید مومند، د عبدالحمید مومند کلیات، مخ ۲۴۶
۲۵. هم دغه، مخ ۲۴۷
۲۶. هم دغه، مخ ۲۴۷
۲۷. هم دغه، مخ ۲۴۷
۲۸. هم دغه، مخ ۲۳۲
۲۹. هم دغه، مخ ۲۳۲
۳۰. هم دغه، مخ ۱۹۹